

# د سولې سفر

## څلورمه کیسه

دوهم چاپ

# د میرزا غمجن زړه


**لیکونکي:**

داکتر گرایم مک کوین
ماری- جو لند
داکتر جوانا سنتا باربارا
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکۍ : ل. غفوری*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کیسې او د ښوونکی لارښود په لاندې ویب سایتونو کې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

HTAC

ددې کیسې کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمویل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

د سولې سفر

**ځلورمه کیسه**

**دوهم چاپ**

# د میرزا غمجن زړه

لیکونکي:

داکترګرایم مک کوین
ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ : ل. غفوری

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي : ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دځېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا**: دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترور،او د یونس کاکا ځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

**د کیسې لنډیز:**

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه یې لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت وربانديې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یې کار کولو،یومابن پرې والوت اوهغه یې وواژه اوپلار یې ،میرزا، یوه پېښه له لاسه ورکړه .

**دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذاروركړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یې بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

د **بی بې جان د هوښیاری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانکړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دتېپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان

غواړي داسې يوآغېزمنه لارپيداکړي چې دهغې په وسيله فاطمه وهڅول شي  هغه غم چې ورته ديونس کا کا دمړينې له امله پيداشوی دئ په خپله ژبه ووايي .

**دميرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجميلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يې دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاريې داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يې زده وې .  دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندی کوي .

**ددرملنې عنصرونه :**

**تصوېرونه او روغتيابښونکې نښې :** خندل ، ورکړه ، ټوکې اوخوښونکې خوبونه اوسوله

**دسمواوسوله راوړونکو کړولپاره لاربښووني :** زړه سواندی ، صبر  ، مهرباني ، دزړونويوشانته والی ،مرسته  ، بدني اراموالی ، دښوکارونو تصديق اوستايل

**ستونزې:** غم ، پريشاني ، زيان ، لري والی ، غمجنتوب

**ددرملنې لارې**: کيسه ويل ، مشوره ، عاطفي ملاتړ ، دزړونو يوشانته والی ، له عاطفي تشويشونو څخه ژغورنه اودفکرآراموالی

# د ميرزا غمجن زړه





ورځ نيمايي شوې وه . جميلې وليدل چې پلاريي ،ميرزا ، له کوره څخه بهر شو. هغه له دې کبله چې نوره دپلار له غوڅې شوې پښې څخه نه وېرېدله خوشحاله وه . کله به چه ميرزا وغوښتل هغه به دخپلو چکسونو په مرسته ورو ورو له يوځای څخه بل ځاي ته تللو .

هغه دانګړ په منځ کې دلرګې په یوه زړه چوکۍ کښیناست او خپل چکسونه یې په ځمکه کېښودل .
دهغه تخرګونه چکسونو وهلي وو. میرزا غلی ناست واویواځې ځمکې ته ئې کتل .

میرزا دماین دانفجار له پیښې څخه مخکې یو خوش خویه سړی و . هغه په انفجارکې دیونس له مړینې اودخپلې پښې له غوڅېدو څخه مخکې تل خوش ښکاربېده اوجمیلې ته به ئې تحفې راوړلې . ځینې وختونه به یې دبې بې جان په څېر کېسې ویلې . جمیله به ورتلله اوله هغه څخه به ئې غوښتل چې کېسې ورته ووائي . په سرکې به میرزا ځان داسې ښودلوچې ګواکې کیسې ئې زده نه دي چې وئې وایي . بیا به یې ویل اوه ! ما فکرکولو چې ټولې کېسې مې ویلې دي اوبله هیڅ کېسه پاتې نه ده . بیا به یې وخندل اووبه یې ویل : " خویوه لنډه کېسه مې په زړه شوه چې پخواوختوکې پېښه شوېده ." بیا به یې دکېسې په ویلو پېل وکړ .

دمیرزا دېرئ کېسې خوښونکې اوخندونکې وې اوځینې غمجنې کېسې به یې هم ویلې . دماین د انفجار له پیښې وروسته میرزا په یو غمجن سړي بدل شوی و. ځنې وختونه به بې له کوم دلیل څخه په قهرېدلو . دېروخت وتلی و چې هغه جمېلې او احمد ته هیڅ کېسه ویلې نه وه.





جمیلې خپل پلارولید چې دلرګې په چوکۍ ډېر غمجن ناست دئ
اوډېر قهرجن ښکارېږي . جمیلې غوښتل چې هغه خوشحاله کړي
نو ځکه په خندا ډکه خوله دهغه لورته ورغله اووئې ویل : "
پلارجانه ماته یوه کېسه ووایه ! "

میرزا جمیلې ته وکتل ، لږوخت پټه خوله
پاتې شو اوڅه ئې ونه ویل خواخرئې په
خبرو پیل وکړ اووئې ویل : " ټولې
کېسې خلاصې شوېدي نورهیڅ کېسه
پاتې نه ده . " وروسته ئې مخ بل لورته
واړولواو بیا ئې دپخوا په شان لاندې
ځمکې ته کتل .

دجميلې وچولی تريو شو . هغه دخپل پلارپه مطلب ونه پوهيدله .
داځل ئې پلار ټوکې نه کولې . هغه ډېرجدي برېښېده . جميلې له ځان
سره وويل : " څرنګه کېدلی شي چې ټولې کېسې دې منځه ولاړې شي
. " جميله دبي بي جان خواته ورغله اووئې ويل : " بي بي ! " بي بي
ځواب ورکړ : " ګرانې څه وايې؟ "
جميلې وويل : " پلارجان مې وايي چې ټولې کېسې ئې له ياده وتلې
اوهېرې کړېدي . "
بي بي جان دجميلې ټولې خبرې ، چې دميرزا په برخه کې ئې وکړې ،
ښې په غورسره واربدلې . دلږوخت لپاره پټه خوله پاتې شوه ؛ ځکه
هغې غوښتل چې دميرزا دغمجن کېدو لامل په ښه طريقه جميلې ته
تشريح اوروښانه کړي .



په اخرکې بي بي جان وویل : "  جمیلې ! دانسان زړه کېسې داسې ساتي لکه ځاله چې یوښکلې مرغۍ ته په خپل ځان کې ځای ورکوي .  یو الوتونکی هغه وخت خوشحاله اوسي چې دننه په ځاله کې وي ؛هلته خوب وکړي ؛ آوازونه وکاږي اوهلته بچې راوړي .  خوکه یوویجاړونکې سېلۍ راشي اوسخت بادولګېږي اوهغه ځاله ړنګه کړي څه به پیښ شي ؟ ! په دغسې یوحالت کې ځاله سوری کېږي ؛ ډکې اوخځلې ئې بادوړي ؛ نورنوالوتونکی نه شي کولی چې هلته پاتې شي اوهغه دې ته اړکېږي چې له هغه ځای څخه والوزي اوبله خواته ولاړشي .  اوس ته همداسې وګڼه چې ستادپلار زړه دهمغې ځالې په څېر دی ؛ دهغه زړه سوری دئ ؛ټولې کېسې ترالوتلې دي اوکوچ ئې کړئ دئ .  هیڅوک اوس نه پوهېږي چې هغه کېسې اوس چېرته دي . کېدلی شي چې هغه کېسې دغرونوپه لورالوتنه کړې وي .
جمیلې په حیرانتیا تپوس وکړ :  "  ولې مې دپلارزړه سوری شوی دئ؟ "
بي بي ځواب ورکړ : "  اوه جمیلې ! هغه ورځ چې یونس په ماین وخوت ، هغه ډېره بدمرغه ورځ وه .  پلارجان دې نه یواځې خپل ورور له لاسه ورکړ بلکه خپله پښه ئې هم له لاسه ورکړه .
جمیلې دهمغه ماین دچاودېدلو له امله دې دپلارزړه سوری سوری شو.  "
جمیله ډېره غمجنه شوه اووئې ویل : "  زړه به ئې څه وخت بېرته روغ شي ؟ "
بي بي جمیله په غېږ کې ونیوله اووئې ویل : "  ته باید صبروکړې ؛ ډېر وخت ته اړتیاده چې یوزړه دې بیرته روغ شي . ته باید دپلار په وړاندې مهربانه واوسې ؛ پرېږده چې هغه دهغو شیانو په باره کې خبرې وکړې چې دی ئې غمجن کړی دئ . "
جمیلې وویل : "  کله چې دهغه دزړه سوری جوړشي ، کیسې بیرته ورته راګرځي ؟  "  بي بي جان یوه ګړۍ په سوچ کې شوه اووئې ویل : "  هغه دې په یاددي چې کېسې دیو الوتونکي په شان دي ، ښه ، الوتونکی ښایي تریو وخته پورې په غرونوکې خوشحاله واوسي ؛ مګرڅه موده وروسته بیا ځان ګوښی احساسوي اوخپله ځاله ئې یادېږي .  زه باورلرم چې همدا اوس یوه کېسه شته چې خپلې ځالې پسې ، چه هغه دمیرزازړه دئ ، خپه ده . اوس ځه لاړه شه مورسره دې مرسته وکړه اوګوره داهېره نه کړې چې دخپل پلارپه وړاندې به له صبراوزغم څخه کاراخلې .


I. Gafori



جمیلې چه ټوله ورځ له خپلې مورسره مرسته کوله ،دپلارغم ځپلی زړه ئې په فکرکې ګرځېده .
هغې په خپل ذهن کې دپلار زړه دیوې کوچنۍ ځالې په څېرداسې انځوروله چې هغه دیوې ونې له ښاخونو څخه راځوړند وي ، ډکې اوخځلې ئې په مځکه راتوییږي . هغې له خپل ځان څخه پوښتنه کوله چې یوه ویجاړه شوې ځاله څرنګه بیرته جوړیدلئ شي .

له غرمې څخه وروسته جميله له کورڅخه بهرولاړه . هغې بيا خپل پلاروليد چې په يوزړه څوکۍ ناست و، سرئې ځوړند نيولی اومځکې ته ئې کتل . جميله دپلارخواته ورغله اوورته ووئې ويل : "   پلارجانه ! "



میرزاخپلې لورته وکتل . جمیلې وویل : "  پلارجانه اجازه ده چې یو کیسه درته وکړم ؟
پلارئې ځواب ورکړ:    څه شی ....مطلب دې څه دی ؟
جمیلې وویل : بي بي وایي چې کېسه دیوالوتونکي اوزړه دیوې ځالي په څېردئ . هغه وائې چې ستازړه دیوکوچنې الوتونکي دځالي په څېردئ چې اوس هغه سوری شوی دئ
میرزا لورته کتل اودهغې خبروته ئې غوږ نیولی و.
جمیلې خبروته ادامه ورکړه وئې ویل : زه داسې فکر کوم یواځې پخپله یوالوتونکی کولی شي چې خپله ځاله بیرته ورغوي . ښایي یوکېسه هم وکولی شي چې د یورنځورزړه درملنه و کړي نوزه به تاته یوکېسه ووایم .
پدې وخت کې یوډېره ټکان ورکونکې صحنه رامنځ ته شوه . میرزا په ژړا پېل وکړ ؛ هغه خپل سرپه زنګنوکیښود او په هق هق ئې وژړل .





جمیله نه پوهېدله چې څه وکړي .  هغې هیڅکله دا نه ولېدلي چې پلارئې له دومره درد اوغمه ډکه ژړاوکړي . جمیلې کورته منډه کړه چې خپله مورحلیمه راخبره کړي . حلیمې همغه لحظه چې دې دخپل خاوند ژړاواورېده ولیدل چې جمیله په ډېره چټکه منډه ددې خواته ورغله . حلیمه دمیرزا څنګ ته ولاړه چې هغه ته ډاډ ورکړي غلی اوآرام ئې کړي

جمیله په فکرکې شوه اوله ځان سره ئې وویل : دامې څه وکړل چې پلارمې دومره ناارامه شو؟ ما خوغوښتل چې له هغه سره مرسته وکړم مګرداوګوره څه وشول ؟

جمیله په کورکې یوائې ناسته وه او هیڅ ئې نه ویل . هغه دومره غلې اوچپ ناسته وه چې نه ئې چا غږ اورېدلو اونه څوک پدې پوهېدلو چې هلته څوک شته دي . هغه ډېره خپه وه؛ له ډېرتشویش څخه ئې په زړه درد راغی .



کله چې په همغه شپه جمیله دخوب ځاي ته لاړه پلار ئې خواته ورغی چې خبرې ورسره وکړي .اوس دجمیلې وارو چې وژاړي . هغه له هغه کار څخه چې کړی ئې و ډېره پښیمانه وه . میرزا دخپلې لورځنګ ته کښیناست ؛ چکسونه ئې په ځمکه کېښودل اوجمیلې ته ئې وویل :



لورې مه ژاړه ، بي بي جان رښتيا وايي ځما زړه ديوې داسې ځالې په څېر دئ چې هغه يووحشتناکه توپان ورانه اوويجاړه کړې وي . کله چې زه دهغه تند باد دلګېدوغږ چې دونو له منځه په غوراري تېرېږي، اورم داسې فکرکوم چې زړه مې له سينې څخه بهرراووت اودتل لپاره ورک شو. هغه وخت چې ديو انسان زړه په داسې يوحالت کې وي په هغه کې کله خوشحالي اويا کومه کيسه پاتې کېدلی شي . دداسې زړه خاوند هيڅ خوښي نه لري . هغه داسې فکرکوي نورنه شي کولی مرکه وکړي يا څه وخوري يا آرام ويده شي اويا وخاندي . ځينې وختونه تردې پورې چې نه شي کولی وژاړي . نن ما وکړای شو چې وژاړم . ښايي چې داژړا به زما لپاره ډېره ښه وي .

جميله په خپل ځای کښيناسته اوله پلارڅخه ئې وپوښتل : پلار جانه ، ته غواړې چې زه يونکل درته وکړم ؟ "

ميرزا ځواب ورکړ : " هو ډېره به ښه شي که يوه کېسه راته وکړې . "

ميرزاورته په ډېرغور غوږ کېښود . يواځې يوځل ئې دسترګو له کنج څخه سترګې پاکې کړې او يوځل مسکی شو.

کله چې جميلې کېسه پای ته ورسوله ميرزا وويل : " ګرانې لورې داکېسه دې ډېره ښه وويله ،کېدای شي چې ته يوه ښه کېسه ويونکې شې اوپدې توګه به له خلکو سره مرسته وکړې چې هغوی دآرامی احساس وکړي .

جميلې پوښتنه وکړه : " پلارجانه ! ايا ستا زړه يوڅه آرام شو؟ "
ميرزا ځواب ورکړ: " ښه ، جميلې زړه مې تراوسه پورې پوره آرام شوی نه دئ ؛ ډېروخت ته اړتيا ده چې هغه ښه شي . خوبايد ووايم چې ستا کېسې ويلو لږ څه قوي کړ. هو دا باورلرم کېدای شي چې ژرخپل بشپړ قوت لاس ته راوړي اويوه له هغو وړوکېسو څخه چې سهاروختې له غرونو څخه راالوزي ، ددوهم ځل لپاره په خپل ځان کې ورته ځای ورکړي. " ميرزا دا وويل اودجميلې په سر ئې لاس راکش کړ اوهغه ئې دخوب ځاي کې ويده کړه .
په هغه شپه کې جميلې يو ښه خوب وليد چې ټول افغانستان په چمنونو ، ګلانو او ونو پوښلی و .
خلک په چمن کې ګرځيدل ؛ يوبل سره ئې خبرې کولې اوخندل ئې . کله چې خلک په چمن کې ګرځيدل ښکلو ښکلو الوتونکو ددوی خواته ورالوتل .
جميلې وويل : " اوه! اي رنګ په رنګ الوتونکو ! غټو او کوچنيو ! دا به دافغانستان دخلکو کېسه وي . هغوي ددوهم ځل لپاره له غرونو څخه زما په لورراالوزي .

***********